مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۹۰ (از ۳ الی ۱۰ عقرب ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### چین او افغانستان د ژورو اړيکو په درشل

- شالید ........ ۳
- د چین-افغانستان د اړیکو نوی فصل ........ ۴
- له چین سره اړيکې د سيمې او نړۍ له زاويې ........ ۵
- د "آسيا زړه" کنفرانس- د استانبول پروسه ........ ۶

### سعودي-افغانستان اړيکې او د سولې نوې هڅه

- د افغانستان او سعودي اړیکو ته کتنه ........ ۷
- د لومړني بهرني سفر لپاره د سعودي انتخاب ........ ۸
- د سولې په بهير کې د سعودي رول ........ ۸
- له سعودي، چين او ترکيې سره د اړيکو ارزښت ........ ۹

### صلح و پیشرفت اقتصادی

- استخراج معادن ........ ۱۰
- ظرفیت‌های لازم ........ ۱۱
- نقش امنیت در استخراج منابع طبیعی کشور ........ ۱۱

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، چین ته د ولسمشر اشرف غني سفر، د دواړو هېوادونو ترمنځ راتلونکو اړیکو او د دغه سفر پر اهمیت او لاسته راوړنو؛ همدا راز له دغه سفر مخکې سعودي عربستان ته د نوموړي سفر او د سولې په بهیر کې د نوو هلو ځلو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

که څه هم چین او افغانستان تراوسه هم ښې اړیکې درلودلې دي؛ خو دغه هېواد ته د ولسمشر غني اوسنی سفر د بېلابېلو اړخونو له پلوه اهمیت لري. افغان ولسمشر هڅه کوي، چې د سولې په بهیر او اقتصادي برخه کې د چین رول ته په راتلونکي کې ارزښت ورکړي او ترڅنګ یې د امریکا، هند او چین په څېر نړیوالو زبرځواکونو سره هم د اړیکو تعادل رامنځته کړي.

ولسمشر له دغه سفر مخکې هم، سعودي عربستان ته د عمرې د ادا کولو په موخه د یوه جګپوړي پلاوي په مشرۍ سفر وکړ او د هغه هېواد له چارواکو سره یې په بېلابېلو موضوعاتو په تېره د سولې په موضوع خبرې اترې وکړې. داسې برېښي چې ښاغلی غني د بین الافغاني سولې د بریا لپاره له ترکیې، سعودي او چین له لارې، چې د پاکستان ستراتېژیک ملګري هېوادونه دي، پر پاکستان د فشار راوړلو په هڅه کې دی.

له دې ټولو سره سره، سوله او اقتصادي پرمختګونه هم تر ډېره سره تړلي دي او دا چې د امنیت په نشتوالي که به د اقتصادي پرمختګونو هلې ځلې ترکومه بریالۍ شي؟ هغه موضوعات دي، چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

## چین او افغانستان د ژورو اړیکو په درشل




ولسمشر اشرف غني چین ته په خپل لومړني بهرني رسمي سفر کې، له پیکینګ سره ستراتېژیکې اړیکې د خپل بهرني سیاست له لومړیتوبونو څخه بللې دي.

په داسې حال کې چې افغانستان د چین له اصلي سیالانو (امریکا او هند) سره ستراتېژیک تړونونه لاسلیک کړي، نو ولسمشر غني له چین سره ستراتېژیکو اړیکو ته د لومړیتوب په ورکولو سره څه اهداف لري؟ په ټولیز ډول بهر ته د لومړني رسمي سفر لپاره د چین انتخابولو، دغه سفر ته ځانګړې اهمیت ورکړی.

ولسمشر غني په دغه څلور ورځني سفر کې له چین سره په بېلابېلو برخو کې تړونونه هم لاسلیک کړل او د "آسیا زړه" هېوادونو په څلورم کنفرانس کې یې مهمه وینا وکړه.

### شالید

چین له افغانستان سره له تېرو 60 کلونو راهیسې رسمي دیپلوماتیکې اړیکې لري. د چین او افغانستان دوه اړخیزې اړیکې هغه مهال پراخې شوې، چې له شوروي سره د چین اړیکې کړکېچنې شوې؛ خو د سردار داوود خان له کودتا سره که څه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ تر یوه بریده بې باوري هم رامنځته شوه؛ مګر د داوود خان له خوا دیپلوماتیکو ځوابونو، دا اړیکې بېرته د ښه والي لور ته بوتلې.

د افغانستان په کورنیو جګړو کې هم چین تر ډېره بریده بې طرفه پاتې شو؛ خو د طالبانو د رېژيم له راپرځېدو سره له ۲۰۰۱ کال راهیسې چین له افغانستان سره د اړیکو پراختیا ته لېوال دی او دا لېوالتیا یې په ۲۰۰۷ کال هغه مهال څرګنده شوه، چې کله یې د میس عینکو د کان قرارداد په ۳ میلیارده ډالرو واخېست.

## د چین-افغانستان د اړیکو نوی فصل

چین ته به د ولسمشر غني سفر، د دغه هېواد او افغانستان ترمنځ د اړیکو یو نوی باب پرانیزي. د اړیکو دا پړاو داسې مهال دی، چې ناټو او امریکا له افغانستانه خپل پوځونه باسي او یو کم شمېر سرتېري به دلته د هغوی په اډو کې پاتې کېږي او په دې توګه په افغانستان کې تر یوه بریده د ځواک تشه هم رامنځته کېږي. چین دې تشې ته د یوه فرصت په سترګه ګوري او په افغانستان کې د خپل راتلونکي رول لپاره لومړني ګامونه اخلي.

دا چې د چین ولسمشر "شي جین پینګ" هوایي ډګر ته د ولسمشر غني د هرکلي لپاره راغلی و، په راتلونکو کلونو کې افغانستان ته د ارزښت ورکولو ښکارندويي کوي. که څه هم چین له 2001 کال راهیسې تر 200 میلیون ډالره زیاته مرسته له افغانستان سره کړې؛ خو په دې سفر کې یې په لومړي ګام کې د راتلونکو کلونو لپاره د 330 میلیون ډالره مرستې ژمنه وکړه.

اشرف غني احمدزی په دې سفر کې له یوې خوا د دغو دوه اړخیزو اړیکو یو نوی فصل پرانېست، له بلې خوا یې هڅه وکړه چې د اوږدمهالو اړیکو لپاره پوخ بنسټ کېږدي. ښاغلي غني خپل چینایي سیال ته څرګنده کړه، چې افغانستان به له چین سره لنډمهالې، منځمهالې او اوږدمهالې اړیکې ولري، چې ورته هیله چینایي ولسمشر "شي جین پینګ" هم وښوده او افغانستان یې د چین لرغونی ملګری هېواد وباله.

بدخشان ولایت د چین له سینګیانګ ایالت سره 85 کیلومتره اوږده پوله لري او په دې وروستیو کې په بدخشان ولایت کې د ناامنیو له زیاتېدو سره، چین د دغه هېواد له مسلمانو بېلتون غوښتونکو سره له دې لارې د همکارۍ وېره لري او غواړي، چې له دې امله هم له کابل سره د اړیکو پراختیا او همکارۍ ته لېوالتیا لري.

په اوسني وخت کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ ستراتېژیکه ملګرتیا دا اړیکې وغځوي او پر دواړو لورو به یې اوږدمهالې اغېزې پرېوځي.

## له چین سره اړیکې د سیمې او نړۍ له زاویې

چین له تېرو څو کلونو راهیسې پر خپله لوېدیزه تګلاره کار کوي، چې د وربښمو نوې لار یې هم په پام کې ده. دا لار هم پر هماغې پخوانۍ نظریې جوړه شوې او غواړي، چې چین له ایرو-ایشیا او اروپا سره ونښلوي. دا نوې لار به د ځمکې او سمندر له لارې وي او که څه هم افغانستان د وربښمو په دې لار کې هم د ځمکې او هم د سمندر له لارې نېغه ونډه نه لري؛ خو د چین ولسمشر څو ځله ویلي، چې افغانستان به هم له دې لارې ګټه پورته کړي.

د دې ترڅنګ د چین لومړي وزیر هم له اشرف غني احمدزي سره په کتنه کې وویل، چې چین په خپله لوېدیزه تګلاره کار کوي او له همدې امله غواړي، چې په افغانستان کې د رېل پټلۍ، سړکونو، اوبو او برېښنا په برخو کې مهم رول ولوبوي. په ټولیز ډول د افغانستان په لور د چین په پاملرنه کې، د دغه هېواد همدا (د لوېدیځ په لور) تګلاره مهم رول لوبوي.

کله چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي او د اوباما-هالبروک اړیکې خرابې شوې، نو حامد کرزي د چین په لور د اړیکو ښه کولو لپاره مخه کړه. په همدې موخه کرزي سفرونه هم وکړل او هڅه یې کوله، چې چین په افغانستان کې له اقتصادي پلوه رادخیل کړي. که څه هم نوموړی په دې کار کې ډېر هم بریالی نه و او چین یې له اقتصادي لحاظه تر ډېره صحنې ته راداخل نه شو کړای؛ مګر له سیاسي پلوه یې اړیکې تر یوه بریده ورسره ورغولې.

چین هم په افغانستان کې سولې او ثبات ته ځانګړې لېوالتیا لري او یو باامنه او پیاوړی افغانستان خپل امنیت او اقتصاد ته ګټور بولي.

په بل اړخ کې هم دا چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې هند په افغانستان کې ډیپلوماتیکې بریاوې ترلاسه کړې او تر څه حده یې خپل رقیب هېواد (پاکستان) مات کړ، پاکستان په افغانستان کې د هند زیاتېدونکی نفوذ د خپل امنیت لپاره ګواښ بولي. په دې اړه د پاکستان جګپوړو چارواکو وخت ناوخت څرګندونې کړې او په تېره بیا د هند له خوا، له روزل شوې افغان اردو څخه هم وېره لري.

هند افغانستان ته په اقتصادي ډګر کې رانغوتلی او د افغانستان ملي اردو هم روزي؛ نو له چین سره به د افغانستان د اړیکو ښه کېدلو ته پاکستان په نېک نېت وګوري او داسې هیله لري، چې چین به د هند ځای ونیسي. په همدې اړه په پاکستان کې د تېرې میلادي میاشتې اکتوبر په 19مه او 20مه د پاک-چین انستیتوت له خوا دوه ورځنی کنفرانس هم د (چین-پاکستان-افغانستان) ترنامه لاندې جوړ شوی و. دا کنفرانس د پاکستان د مشرانو جرګې غړي مشاهد حسین له خوا جوړ شوی و، چې د پاکستان د ملي امنیت سلاکار سرتاج عزیز، د چین سفیر، افغان ډیپلوماتانو، چینایي څېړونکو او استادانو ګډون پکې کړی و او د دغو درې واړو هېوادونو د اړیکو په تړاو مهم کنفرانس و.

له بلې خوا امریکا هم له پخوا راهیسې په دې هڅه کې ده، چې چین افغانستان ته له نظامي پلوه رادننه کړي؛ مګر چینایانو همغه مهال د امریکا له دې هیلې سره مخالفت څرګند کړی و. دا چې په اوسني وخت کې بیجینګ د افغانستان په اړه د یوه مهم کنفرانس کوربه و؛ نو که څه هم امریکا له چین سره د ایران او ختیځې اسیا له امله ډېر مخالفتونه لري، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم د چین دا هڅې د ستایلو وړ بللې دي.

هند هم د امریکا په څېر له چین سره کړکېچنې اړیکې لري او د چین سیمه ییز سیال دی؛ خو د افغانستان په اړه هند هم تر ډېره همغږی دی او په دې تړاو یې څو ځله د جګپوړو چارواکو ترمنځ خپلمنځي ناستې هم درلودلې دي. له بلې خوا افغان ولسمشر هم هڅه کوي، چې په راتلونکو کلونو کې د چین، هند او امریکا په څېر زبرځواکونو سره د اړیکو تعادل وساتي.

## د "آسیا زړه" کنفرانس- د استانبول پروسه

د استانبول پروسه چې د ۲۰۱۱ کال راهیسې پیل شوې، چې لومړی غونډه یې د ترکیې په استانبول ښار کې، دویمه یې په کابل کې، درېیمه په قزاقستان او څلورمه یې د چین په پلازمېنه بیجینګ کې د اکتوبر په 31مه جوړه شوه، او د ایران، هند او پاکستان په ګډون د 14 هېوادونو استازو ګډون پکې کړی و.

دا پروسه د ګډو ګټو د همغږي کولو او ګډو ګواښونو د مخنیوي په موخه پیل شوې، چې دې غونډې ته ولسمشر اشرف غني په خپلو خبرو کې سوله د خپل هېواد لومړیتوب وباله او ویې ویل، چې افغانستان به په راتلونکې لسیزه کې د اسیایي همکاریو ډګر وګرځوي.

افغان ولسمشر له غونډې مخکې هم له چینایي چارواکو سره د افغان سولې په تړاو خبرې وکړې او داسې برېښي، چې اشرف غني احمدزی به د ترکیې او سعودي عربستان ترڅنګ د چین له لارې هم پر پاکستان د فشار اچولو هڅه وکړي، ترڅو د بین الافغاني سولې بهیر ته لار هواره شي. د چین ولسمشر هم د پاکستان او افغانستان ترمنځ د باور جوړونې په تړاو د رول لوبولو ژمنه کړې ده.

د استانبول د پروسې له پیل راهیسې داسې هیلې شته دي، چې دا کنفرانسونه به د افغانستان په سوله او ثبات کې مهم رول ولوبوي؛ ځکه د دې پروسې په مرسته به د ګاونډیو هېوادونو ګټې سره ګډې او همغږې شي.

## سعودي-افغانستان اړیکې او د سولې نوې هڅه



ولسمشر اشرف غني احمدزي، سعودي عربستان ته په سفر کې د عمرې له ادا کولو وروسته، د سفر په دويمه ورځ (د اکتوبر په 26مه) د هغه هېواد له وليعهد او دفاع وزير، شهزاده سلمان بن عبدالعزيز آل سعود سره په رياض کې وکتل.

د سعودي له دفاع وزير شهزاده سلمان سره په کتنه کې، تر ډېره د دواړو هېوادونو ترمنځ د ستراتېژيکو همکاريو د هوکړه ليک، په اسلامي نړۍ کې د روانو ستونزو او کړکېچونو، په افغانستان کې د سولې او ثبات په ټينګښت کې د سعودي د رول، اقتصادي مسايلو او همدا راز په سعودي کې د افغان سوداګرو او حاجيانو پر ستونزو خبرې اترې وشوې. د دې ترڅنګ دا پرېکړه هم وشوه، چې د دغو موضوعاتو د څرنګوالي لپاره دې دواړه لوري د لا ډېرو تفصيلي خبرو اترو لپاره پلاوي وټاکي.

له يوې خوا دا سفر د ولسمشر غني لومړنی بهرنی سفر و او له بلې خوا، د سعودي له دفاع وزير سره د نوموړي کتنه، د دغه سفر د اهميت څرګندوی دي.

### د افغانستان او سعودي اړيکو ته کتنه

د افغانستان او سعودي د ملتونو ترمنځ له پخوا څخه سياسي او کلتوري اړيکې موجودې وې؛ خو دغه هېواد افغانستان ته د شورويانو له راتګ وروسته د افغانستان د سياست ډګر ته راداخل شو او کله چې سردار محمد داوود خان د خپلې واکمنۍ پر مهال شوروي محوره بهرنۍ اړيکې بدلې کړې او د لوېديځ او اسلامي نړۍ په لور ولاړ، له هماغه مهاله د افغانستان او سعودي عربستان ترمنځ سياسي اړيکې پراخې شوې.

دا اړيکي هغه مهال د سعودي عربستان لپاره ارزښتناکي شوې، چې شورويانو پر افغانستان يرغل وکړ او تر ډېره بريده يې د عربستان امنيت او خليج هم له ګواښ سره مخ کړ. سعودي هم له همدې ويرې د افغانستان له مجاهدينو ملاتړ وکړ او د مرستو په ډګر کې تر ټولو مخکښ و.

د افغانستان د جهاد له دوران راوروسته، سعوديانو د ايران په مقابل کې د ستراتېژيک عمق د ترلاسه کولو لپاره، له افغان مجاهدينو او زياتره له سلفيانو او طالبانو ملاتړ کاوه، چې د دوی او نورو ګاونډيانو دغه کار په هېواد کې نيابتي جګړه، نه يوازې دا چې پر ملت وتپله، بلکې تر اوسه يې اغېزې هم په هر ډګر کې څرګندې دي.

## د لومړني بهرني سفر لپاره د سعودي انتخاب

ولسمشر د لوړې په مراسمو کې د خپل سياست اصلي ټکي روښانه کړل او په بهرنيو چارو کې يې پينځه کړۍ يادې کړې، چې لومړۍ يې ګاونډي هېوادونه، دويمه يې اسلامي هېوادونه، دريمه يې د امريکا په څېر غربي هېوادونه، د ناټو غړي هېوادونه او جاپان وو، څلورمه يې اسيايي هېوادونه او پينځمه يې هم د ملګرو ملتونو د سازمان او نړيوال بانک په څېر نړيوال سازمانونه وو. په لومړۍ درجه کې د ګاونډيو هېوادونو يادول، د افغانستان په بهرني سياست کې د هغوی اهميت په ډاګه کوي.

دا چې ولسمشر ولې خپل بهرني سفرونه له دويمې کړۍ پيل کړل، د پوښتنې وړ ده. دا چې ولسمشر د ټاکنيزو مبارزو پر مهال ويلي وو، چې د بريا پر مهال به يې لومړی سفر سعودي عربستان ته وي، يوازې د دې ژمنې پوره کول وو او که څه نور اهداف يې هم ترشا درلودل؟ که څه هم ولسمشر غني، سعودي ته د سفر ژمنه ښايي د عامه ذهنيت د راجلبولو لپاره ورکړې وي، ځکه اشرف غني احمدزي ډېر عمر په غرب کې تېر کړی او هڅه يې کوله چې کومې تشې ته يې چې خلک متوجه وو، هغه ډکه کړي؛ مګر د دې ترڅنګ د نوموړي په بهرني سياست کې د سعودي د اهميت ښکارندويي هم کوي.

## د سولې په بهير کې د سعودي رول

سعودي عربستان ته د اشرف غني احمدزي دغه سفر ته له دوو زاويو د اهميت په سترګه کتل کېږي؛ لومړی دا چې د ښاغلي غني په مشرۍ د نوي حکومت د جګپوړو چارواکو دا سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو په ښو کولو کې مثبت رول ولوبوي او دويم دا چې ښايي د افغانستان د سولې په بهير او له طالبانو سره په خبرو اترو کې د سعودي د

رول راجلبولو پیلامه وي. سعودي عربستان که له یوې خوا د اسلامي نړۍ د مقدساتو ټاټوبی دی، له بلې خوا له پاکستان سره هم نژدې ستراتېژيکې اړيکې او پر دغه هېواد خورا زيات نفوذ لري؛ نو ځکه داسې انګېرل کېږي چې دا سفر د بين الافغاني سولې بهير ته، له دې لارې د رسېدو د هلو ځلو پيل دی.

د افغان چارواکو په وينا، ولسمشر اشرف غني د سولې په برخه کې د سعودي عربستان د مرستې راجلبولو لپاره يو منظم پلان ترتيب او له ځان سره وړی و. ډېری شنونکي د پاکستان له لارې د سولې په برخه کې د سعودي د رول ترڅنګ، پر افغان طالبانو د مخامخ اغېز له امله هم د دغه هېواد رول مهم ګڼي، چې ګويا سعودي کولی شي له طالب چارواکو سره نېغ په نېغه هم تفاهم وکړي؛ ځکه سعودي له هغو هېوادونو څخه دی، چې د طالبانو حکومت يې په رسميت پېژندلی و او له هغوی سره يې ښې اړيکې درلودې.

په ټوليز ډول داسې برېښي، چې دا سفر به په لومړي ګام کې د دواړو لورو ترمنځ د اړيکو ښه کولو او غځولو پيلامه شي او ترڅنګ به يې د افغانستان د سولې او ثبات په اړه د سعودي د رول په اړه هم، دوه اړخيزې خبرې اترې پيل شي. د افغانستان د سولې په بهير کې د رول لوبولو په تړاو، د ولسمشر غني د غوښتنې په ځواب کې د سعودي دفاع وزير ژمنه وکړه، چې هېواد به يې تر خپله وسه په دې برخه کې همکاري ونه سپموي.

## له سعودي، چين او ترکيې سره د اړيکو ارزښت

داسې ښکاري، چې ولسمشر غني له چين، ترکيې، سعودي او په بل اړخ کې له هند او د امريکا په مشرۍ لوېديزې نړۍ سره د اړيکو د ښه کولو او پراختيا په هڅه کې دی. دا هغه هېوادونه دي، چې نه يوازې د افغانستان د سولې په بهير کې مهم رول لوبولی شي، بلکې د هېواد په اقتصادي پياوړتيا کې هم مثبته ونډه اخېستلی شي.

دا چې سعودي، ترکيه او چين د پاکستان ستراتېژيک ملګري هېوادونه دي؛ اشرف غني احمدزی غواړي چې د دغو دريو هېوادونو له لارې پر پاکستان فشار راوړي، ترڅو د افغان سولې او له طالبانو سره د مخامخ خبرو په تړاو رښتينی رول ولوبوي.

چين او سعودي به هم د اوسنۍ نړۍ او يادو شوو هېوادونو جيو-پوليټيک ماحول ته په کتو سره پر پاکستان فشار راوړلو او په دې اړه رول لوبولو ته زړه ښه کړي؛ ځکه دا دواړه هېوادونه په اوسني وخت کې له تونډلارو وېره لري، چې ښه بېلګه يې هم په دې وروستيو کې د چين پر خلاف د القاعدې شبکې د جګړې اعلان دی او سعودي هم په منځني ختيځ کې د اسلامي دولت د ډلې پر ضد له امريکا سره په نوي جوړ شوي اېتلاف کې ملګری دی او همدا راز هڅه لري، چې د سيمې په ستراتېژيکو هېوادونو کې خپل رول له مذهبي او سياسي پلوه پياوړی کړي.

## صلح و پیشرفت اقتصادی




رئیس جمهور غنی در یکی از صحبت‌های خویش گفت که صلح نخستین اولویت کاری وی خواهد بود و اگر صلح در کشور بمیان نیاید، پیشرفت اقتصادی در افغانستان ناممکن خواهد بود این درحالیست که وی با امضای قرارداد امنیتی با امریکا، راه رسیدن به صلح را بیش از پیش دشوار ساخت.

تا قبل از امضای این قرارداد امنیتی، رسانه‌های تحت حمایت امریکا در افغانستان چنین تبلیغ می‌کردند که راه حل تمام مشکلات افغانستان در امضای این قرارداد نهفته است. زمانیکه ارزش افغانی در برابر دالر کمی پائین می‌آمد، گناه این کاهش به گردن حامد کرزی می‌افتاد و اگر وزارت مالیه از کمبود منابع مالی شکایت سر می‌داد، مقصر کرزی قلمداد می‌شد و اگر پاکستان مناطق مرزی افغانستان را هدف راکت قرار می‌داد بازهم گناه بدوش کرزی بود که با عدم امضای این قرارداد افغانستان را در مضیقه قرار داده و رسانه‌ها سروصدا بلند می‌کردند که دلیل همهٔ این مشکلات، عدم امضای این قرارداد با امریکاست.

هیچکس نمی‌خواست به این سوال پاسخ دهد که در کدم بند این قرارداد امریکا تعهد نموده است که مشکلات اقتصادی افغانستان را حل می‌کند و در کدام بند از حمایت افغانستان در برابر حملات پاکستان تعهد شده است.

سرانجام این قرارداد در دومین روز کاری حکومت جدید به امضا رسید، اما قیمت دالر همچنان سیر صعودی خود را ادامه داد، وزارت مالیه همچنان از کاهش درآمدها می‌نالد و از کاهش نیم ملیارد دالر بودجه سخن می‌گوید و حملات پاکستان نیز ادامه یافته است، ولی رسانه‌های تحت الحمایهٔ امریکا در افغانستان در سکوت مرگبار فرو رفته‌اند.

### استخراج معادن

افغانستان کشوری است محاط به خشکه که منابع اقتصادی اندکی دارد. در این کشور نه زراعت در حدی توسعه یافته که حداقل نیازهای داخلی را تکافو نماید و نه مانند بعضی از کشورهای دیگر از جاذبه‌های گردشگری برخوردار است تا برایش

منبع درآمد باشد. یگانه امیدی که برای پیشرفت اقتصادی در این کشور وجود دارد، ذخایر زیر زمینی و معادن این کشور است که باید استخراج گردد.

استخراج معادن در هر کشور نیازمند زیربناهایی است که قبلا باید در آن سرمایه‌گذاری هنگفت صورت گیرد. استخراج معادن بدون وجود یک شبکۀ سراسری خط آهن ناممکن است تا مواد معدنی را از معدن به کارخانه‌های پروسس برساند. در کشوری که حتی جاده‌های مناسب برای مسافرت عادی وجود ندارد، شبکۀ سراسری راه آهن یک آرزوی دور از دسترس به نظر می‌رسد.

## ظرفیت‌های لازم

برای اینکه بتوان معادن را بصورت اقتصادی استخراج نمود باید از قبل، ظرفیت‌های لازم در کشور خلق گردد. در طول سیزده سال گذشته مانند همه بخش‌های زیربنایی، به این سکتور هم توجهی نشد. شاید دست‌اندرکاران این کشور به این باور بودند که سیل دالر تا آینده‌های دور از کشورهای خارجی همچنان بسوی افغانستان سرازیر خواهد بود.

یکی از مهمترین بخش ظرفیت سازی در این زمینه، آموزش و بمیان آوردن کادرهای مسلکی است در غیر آن افغانستان مجبور است تا انجنیران خارجی را با معاشات بلند استخدام نماید. اما متاسفانه در سال‌های گذشته در بخش آموزش کادرهای مسلکی در بخش معادن، توجه جدی مبذول نگردید. امروز در سراسر افغانستان صدها پوهنتون خصوصی وجود دارد، اما در یک درصد از این مؤسسات تحصیلات آموزش عالی فاکولتۀ معدن شناسی و جیولوجی وجود ندارد.

## نقش امنیت در استخراج منابع طبیعی کشور

امنیت در پیشرفت اقتصادی نقش حیاتی دارد و مثال روشن آن افغانستان است که در طول سیزده سال با وجود کمک‌های بزرگ جامعۀ جهانی، این کشور همچنان درگیر مشکلات اقتصادی است. دلیل عمدۀ این عدم پیشرفت دوام جنگ و ناامنی در افغانستان بوده است.

معادن افغانستان در مناطق کوهستانی و دورافتاده موقعیت دارد که تامین امنیت آن، فوق العاده مشکل است. بنابراین اگر یک کمپنی خارجی بخواهد در بخش معادن در افغانستان سرمایه‌گذاری نماید، هرگز نخواهد توانست بدون توافق با مخالفین مسلح دولت دست به کار شود. از جانب دیگر همین اکنون نیز طالبان در تشکیلات خویش بخشی را بنام معادن

بمیان آورده‌اند و در مناطق تحت کنترول شان معادن را توسط کمپنی‌های داوطلب استخراج می‌نمایند. حتی اگر معدنی در مناطق تحت کنترول طالبان هم نباشد، انتقال آن از محل استخراج نیازمند تفاهم با مخالفین مسلح دولت است.

بعنوان مثال بخش اعظم لاجوردی که از بدخشان استخراج می‌شود برای پروسس از طریق راهی که بنام توپخانه مشهور است، به پاکستان انتقال می‌یابد و این راه در کنترول طالبان است.

بنابراین در شرایط جنگ وناامنی، هرگز نمی‌توان امیدی به استخراج معادن در افغانستان داشت و اگر معدنی هم استخراج گردد، طالبان از عواید آن سهم خود را خواهند داشت واین عواید برای آنان به معنای دوام جنگ خواهد بود.

دوام جنگ حاکمیت دولتی را بیش از پیش در کشور تضعیف خواهد کرد و زمینه را برای ایجاد قدرت‌های محلی مهیا خواهد ساخت تا آنان نیز از این خوان یغما سهمی داشته باشند. حتی ممکن است جنگ بر سر معادن در کشور، جنگ‌های ایدیولوژیک را تحت الشعاع قرار دهد. این تجربهٔ تلخ را بعضی از کشورهای افریقایی با کشتارها و حتی پاکسازی‌های قومی پشت سر گذاشته‌اند.

بنابراین می‌توان گفت وقتی رئیس جمهور غنی می‌گوید صلح در اولویت کاری وی است، درست می‌گوید اما نخستین قدمی که وی برداشت و قرارداد امنیتی را با امریکا امضا کرد، راه خلاف این هدف را در پیش گرفت و ابتکار عمل در صلح و جنگ را در اختیار امریکا قرار داد.

اکنون آیندهٔ صلح و جنگ در افغانستان مربوط به مذاکرات آینده میان امریکا و طالبان است، اما سیاست امریکا در افغانستان بخشی از سیاست این کشور در قبال همه کشورهای اسلامی است. بنابراین پیشبینی صلح در افغانستان در شرایط کنونی سخت دشوار است. پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)